استقلال خپلواکی
www.esteqlaal.net

ډاکټر ضیا نظام جمعه ۰۱ دسمبر۲۰۲۳

# د منځګړي په توګه د قطر بحث پارونکی رول



قطر د عربستان د ټاپووزمې شمال ختیځ لور ته یو کوچنی عربي هیواد دی چې دریو نورو خواوو ته یې فارس خلیج پروت دی. دغه هېواد ۲.۶ میلیونه نفوس لري چې یوازې ۳۱۳ زره یې د قطر تابعیت لري او پاتې ۲.۳ میلیونه یې د نورو هېوادونو وګړي دي. په دې توګه په قطر کې د هندي توکمو نفوس د دغه هېواد تر وګړو دوه چنده او د نیپالیانو یو نیم برابر زیات دی او بنګله دېشیان هم پکې تر هغو خلکو ډېر دي چې د قطر د تابعیت سند لري. پردې سربیره، په دغه هیواد کې د فیلیپین او مصر ګڼ کډوال هم ژوند کوي.

دغه هېواد د تېلو او ګازو د صادراتو په برکت ډېر بډای دی، د پیسو د نړۍ وال صندوق د شمېرو له مخې په ۲۰۲۳ کال کې له لوګزامبورګ، ایرلنډ او سویس وروسته څلورم هېواد دی چې د سړي سر عاید یې لوړ دی او د سړي سر عاید یې ۸۴،۴۱۷ امریکایي ډالرو ته رسېږي. د دغه هېواد د پیاوړي اقتصاد بنسټ د تېلو او طبیعي ګازو صادرات دي. قطر د اوبلنو طبیعي ګازو تر ټولو ستر صادرونکی هېواد دی او له تېلو او ګازویې په ترلاسه کړو میلیاردونه ډالرو په امریکا، اروپا او اسیا کې یې پانګونه کړې ده. د قطر د هوایي چلند شرکت د نړۍ یو له سترو هوایي شرکتونو دی. له سیاسي پلوه هم، قطر یو له مهمو عربي هیوادونو ګڼل کیږي او د پراخو مالي سرچینو ترڅنګ، په سیاسي، اقتصادي او ډیپلوماتیکو لوبو کې د هغه د دریځ په تثبیتولو کې د الجزیرې د مشهورې رسنۍ

salamwatanam@gmail.com

رول هم خورا د پامور دی. الجزیره، په ځانګړې توګه د هغې عربي برخه، تورنه ده چې د اسلامي سخت دریځو ډلو د ویاندې رول لوبوي. د دغه نفوذ او اسانتیاوو له لرلو سره سره، قطر تل د سیمې د ځواکمنو هېوادونو په ځانګړې توګه د خپل لوی سویل لوېدیځ ګاونډي سعودي عربستان ترڅنګ خپل موجودیت په خطر کې ویني، نو له همدې امله له اسلامي افراطي قوتونو سره د پېچلو اړیکو پر لرلو سربېره، د خپل پاینت لپاره د نړۍ له ستر پوځي ځواک ( امریکا) سره هم ټینګې اړیکې لري. نن ورځ په سیمه کې د امریکا تر ټولو لویه اډه په قطر (العدید) کې ده. قطر له څو نورو لوېدیځو هېوادونو سره هم پوځي تړونونه لاسلیک کړي دي.

قطر د خپلې خورا ډېرې شتمنې او مشهورې رسنۍ الجزیرې په لرلو سره ډېره لېوالتیا لري، چې د ځواکمنو هېوادونو د سیاسي لوبې ډګر ته ورودانګي او په نړۍ والو مسایلو په ځانګړې توګه په سیمه ییزو مسایلو کې اغېزناک رول ولري. البته، یوازینی رول چې تر دې دمه یې په نړۍ واله کچه لوبولی دی، منځګړیتوب دی. د سیمې ډېری هېوادونه د دا ور رول لوبولو وس نه لري، خو قطر له سخت دریځو سره د خپلو پټو او ښکاره اړیکو له امله د حکومتونو او افراطي ډلو ترمنځ د سولې د خبرو، د یرغمل شویو کسانو د خلاصون او د دښمنۍ د پای ته رسولو په برخو کې منځګړیتوب کوي.

د سعودي د الجزیرې ورځپاڼې د راپور له مخې، په ۲۰۱۳ کال کې د قطر د کورنیو چارو وزیر د طالبانو ډلې ته د دغه هېواد دروازې پرانیستې او د دغې ډلې یو شمېر جنګیالیو ته یې د اوسېدو اجازه ورکړه. د الجزیرې عربي ټلویزیوني شبکې د جګړې او دغه راز د طالبانو د واکمنۍ پر مهال دغې ډلې ته فرصت ورکړ، چې خپل پیغامونه نړۍ او خپلو پلویانو ته ورسوي.

په ۲۰۱۳ کال کې قطر هوکړه وکړه چې طالبان په دوحه کې دفتر پرانیزي. د قطر دې پریکړې چې بې له شکه د افغانستان په جګړه کې له ځینو ښکیلو قدرتونو سره په همغږۍ وشوه، د طالبانو سیاسي دریځ پیاوړی کړ او د دې ډلې پلویانو ته یې د اسلامي جمهوریت د حکومت پر ضد د تحرک او تبلیغاتو او د طالبانو د مخالفو بهیرونو د کمزورۍ کولو زرین فرصت برابر کړ. په ټولیزه توګه دغه اقدام د افغان ولس او پوځ پر مورال منفي اغېز وکړ او ډېری خلکو فکر کاوه چې نړۍ واله ټولنه به په افغانستان کې د جمهوریت له ملاتړه لاس واخلي او پر هېواد به نوې سیاسي معادله تحمیل کړي. د طالبانو پلویانو هم له دغه سیاسي بدلونه ډېره ګټه پورته کړه او د بنسټپالو او محافظه کارو ځواکونو د سمبالتیا او د پرمختګپالو بهیرونو د تخریب لپاره یې په قطر کې د طالبانو له دفتر او هغو خبرو اترو چې وروسته د طالبانو او بهرنیو لورو ترمنځ پیل شوې، ګټه پوره کړه. په دې کې شک

نشته چې قطر د امریکا له ملاتړ پرته طالبانو ته دفتر نه شوای ورکولای او دې پرېکړې د افغانستان په تړاو د امریکا په تګلاره کې بدلون بیاناوه. د سپټمبر له یوولسمې وروسته د امریکا د جګړې د ملاتړ معادله په څه باندې یوې لسیزې کې بدله شوې وه او د دغه هېواد اکثریت خلک په افغانستان کې د جګړې د دوام مخالف وو. خو له دې سره سره، قطر یو منفعل اسانچاری نه شي ګڼل کېدای، د طالبانو په ګډون یې له افراطي ځواکونو سره د کلونو تماسونو او اړیکو مخینه او دغه راز په سیمه ییزو چارو کې د مهم رول لوبولو لپاره سیاسي هوډ درلود.

له بده مرغه د افغانستان واکمنانو فکر کاوه، چې ایتلافي ځواکونه به ژر له افغانستانه ونه وځي.هغوی فکر کاوه، چې افغانستان یوه ستراتېژیکه اډه ده چې د نړۍ په نویو لوبو کې له پامه نه غورځول کېږي، چېرته چې د چین، روسیې او ایران په ګډون د سیمې له ځواکمنو او د ډېرو ادعاوو له لرونکو لوبغاړو سره د لوېدیځ مقابله ورځ تر بلې پراخېږي. هغوی پر دې باور وو، چې له افغانستانه د ائتلافي ځواکونو وتل به د لوېدیځ لپاره ډېر ګران پرېوځي او د هغوی پر نړۍ وال حیثیت او زموږ په سیمه کې د هغوی پر رول به نه جبرانېدونکې اغېزې ولري، نو پر همدې بنسټ به هېڅکله په افغانستان کې خپلې پوځي اډې پرېږنږدي. دا تصور له پیله ناسم و او د افغانستان د خلکو د بې چاره ګۍ لامل شوی و او په عین حال کې یې امریکا دې ته اړ کړه چې د نورو حل لارو په لټه کې شي. له طالبانو سره د خبرو لپاره د امریکا پرېکړه د اسلامي جمهوریت تر چتر لاندې د یوې اغېزناکې ادارې د رامنځته کولو لپاره د هغې د هڅو د ناکامۍ مستقیمه پایله وه او دا چې په افغانستان کې د هغه نظام مشرانو د امریکا ملاتړه ناپایه او د نامحدود وخت لپاره غوښت او محلي تدابیر یې نه نیول او رغنده کورني اقدامات یې نه کول. د پایلې په توګه، امریکا په سیمه کې د سخت دریځو له ملګري قطره وغوښتل، چې له طالبانو سره چې کلونه کلونه ورسره د ترهګرو او تروریستانو په نوم جنګېدلې وه، د خبرو زمینه برابره کړي، له طالبانو سره تماس او خبرو د امریکا په سیمه ییزو لوبو کې یوه داسې نوې پاڼه پرانېستله، چې له مخې یې په افغانستان کې له ډېر لګښت لرونکې جګړې د خلاصون تر څنګ، د جهاد د دورې په څېر د افغانستان او سیمې له افراطیانو سره راکړه ورکړه پیل کړي او په سیمه ییزو لوبو کې د خپلو سیالانو پر وړندې له هغوی کار واخلي.

قطر له ډېرې مودې راهیسې هڅه کړې چې د خپلو رسنیو له لارې د القاعدې په څېر د سخت دریځو سازمانونو غږ منعکس کړي او د ځینو وسله والو افراطي ډلو لکه اخوان المسلمین او طالبانو ملاتړ وکړي او په تونس، لیبیا، مصر، افغانستان او نورو هېوادونو کې د هغوی له واکمنېدو سره مرسته

وکړي. البته قطر دغه تورونه نه مني، خو د دغو تورونو د تایید لپاره کافي اسناد شته او په سیمه او نړۍ کې ډېر کم خلک د قطر پر دې رول شک لري.

په ۲۰۱۷ کال کې د سعودي عربستان، بحرین، متحده عربي اماراتو او مصر په ګډون د سیمې ځینو هېوادونو پر قطر له سخت دریځو ډلو د ملاتړ له کبله بندیزونه ولګول. بې له شکه چې په دې وروستیو کې د دغو هېوادونو او قطر ترمنځ اختلافات کم شوي، خو هغه عوامل چې د سیمه ییز تقابل لامل شوي وو، لا هم پاتې دي.

قطر په ځلونو اعلان کړی چې یو بې پرې منځګړی دی، له طالبانو سره یې د خپلو اړیکو په تړاو هم، همدا ادعا کړې ده. خو که شواهدو ته ځیر شو، قطر هېڅکله بې پرې منځګړی نه دی، په تېره بیا په افغانستان کې. کله چې طالبانو په قطر کې دفتر پرانیست او له هغه ځایه یې د سیاسي اډې او نړۍ وال سټېج په توګه کار واخیست، په افغانستان کې دننه پر ځانمرګو بریدونو او د بې ګناه خلکو پر وژلو بوخت وو. د طالبانو په ترهګریزو بریدونو کې هره میاشت په زرګونو کسان وژل کېدل او د یوه مسوول حکومت او ولسواک نظام د رامنځته کېدو پر لور د ملت خوځښت له ننګونو سره مخ کېده، خو قطر د دغو ترهګریزو بریدونو او د ولس ضد کمپاینونو عاملینو ته دفتر او سټېج ورکړ او له هغوی یې سیاسي او مالي ملاتړ وکړ، دې ته بې پرېتوب نه شي ویل کېدای. د پوهنې ضد، ښځو ضد، د ازادۍ ضد او قانون ضد ډلې له خوا د ځلوېښت میلیونه انسانانو په یرغملولو کې مرسته کول بې پرېتوب نه شي بلل کېدای. نن ورځ د هېواد نیمایي وګړي عملاً په خپلو کورونو کې بندیان دي او له ټولو لومړنیو حقونو بې برخې دي او پاتې نور هم له انساني کرامت، مدني، سیاسي او ټولنیزو حقونو محروم دي. قطر او نور هغه هېوادونه چې د طالبانو له واکمنېدو سره یې مرسته کړې، د طالبانو په جرم کې شریک دي.

پای

salamwatanam@gmail.com